مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری ۲۰۲۵/۰۸/۱۵

د استقلال ۱۰۶ کلیزه مو مبارک

۲۸ د فبروري ۱۹۱۹ز

افغان پاچا امان الله خان د کابل د عیدگاه جومات څخه د مستقل افغانستان اعلان وکړ.

په دي وسیله د ګران هېواد افغانستان د استقلال د حصول د ۱۰۶ کلیزې په مناسبت، چې سروالي يې زمونږ ملي اتل اعلیحضرت غازي امیر امان الله خان (رح) کوله، خپله مبارکي د افغان قهرمان او مظلوم ملت ته تقدیم کوم. هرهجري لمریز کال ۲۸ د اسد د میاشتي افغان تاریخي ملت، لر او بر د خپل ګران افغانستان د سیاسي خپلواکي کلیزه لمانځي. خپلواکي، استقلال، حرُیت، آزادي هغه ارزشناک مفاهیم دي، چې له فردي آزادي څخه پیل کېږي او د ملتونو تر آزادي پورې رسېږي. زمونږ دا سیاسي استقلال کومه تصادفي پېښه نه بلکه، دا زمونږ د افغان ملت د هغو رشتینو وطن پالو افغانانو د زیار او قرباني نتیجه وه، چې د لومړي مشروطیت او بیا دوهم مشروطیت په تحریک کې د یوې ترقي پاله کړنلارې سره راغوندِ سوي ول. د دوهم مشروطیت سروال پاچا زوی امان الله خان ؤ، چې د بادشاهي د مقام د منلو په لومړۍ ورځ ۲۸ د فبروري ۱۹۱۹ز يې د کابل د عید ګاه جامع جومات د منبر څخه د افغانستان بشپړ سیاسي استقلال خپل ملت او نړیوالو ته اعلان کړ. د نوي آزاد امیر، امان الله خان ځانګړتیا او لوړ مقام په دي ټکي ؤ، چې د هغه په پاچا کېدلو کې د هېڅ بهرني استعماري ځواک لکه انګلیس او روس لاس دخیل نه ؤ. پاچا زوی امان الله خان د دوهم مشروطیت د منورینو یو غوره انتخاب ؤ. د هېواد د سیاسي استقلال د حصول څخه پس، اماني دولت پخپل ډېر وطن پال پروګرام سره عملاً افغاني ټولنه د یوه په قانون ولاړ دولت د تاسیس وخواته سوق کړله. نوی اساسي قانون د ملت په مستقیمه رایه جوړ سو او نوره د ۷۵ په تعداد نظامنامې، چې اساسي قانون يې تقویه او بشپړ کاوه د انقلابي او استقلال بخشوونکي غازي امان الله او د هغه د شریفو یارانو او د افغان ملت په مُخلص ګډون تدوین سولې. دا ټول اقدامات د یوه هوسا او آباد افغانستان لپاره یو لومړنئ عالي بنسټ ؤ. دا زمونږ د ګران تاریخي افغانستان لپاره یو بهترین پیل ؤ. د افغانانو د شه ژوند د تامین لپاره پاچا او مُخلصو یارانو يې پوره لس کاله د خپل سیاسي استقلالیت په حفظ کې، شپه او ورځ د وطن دوستۍ په لوړه روحیه کار وکړ، چې تاریخي اسناد د دغه حقیقت شهود دي. زمونږ د ګران هېواد بد مرغي هغه دم د نړۍ د یوه شریر په هر لحاظ زورمند دولت انګلیس سره مخامخ نا حل یا جبري سرحد هغه هم د ۲۴۰۰ کیلومترو په واټن ؤ. ځوان افغاني مستقل دولت یوه نړیوال قوي متحد ته ضرورت درلود، او نوی د انګلیس رقیب روس-شوروي هم هغه زمان په دفاعي حالت کې خپل د ترقي پراو واهه او افغان مستقل پاچا هم نه غوښتل، د خپل هېواد د استقلال په معامله د روس غېږ ته ځان ورواچوي، ځکه استعمار، استعمار ده او زیات اعتماد او تکیه ورباندې کول هم خطرناک ول. بناً اماني دولت مکلف ؤ په یوازیتوب د یوه قوي ظالم او سخت مکار دوشمن سره مقابله وکړي. انګلیسي مغروراستعمار څنګه دا زغملای شوای، چې د خپل دیوال تر شا یو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قوي او مدني افغانستان ووينې، چې سبب کېږي، طلايي هندوستان يې له لاسه ووځي. د خوست د ۱۳۰۳ل بغاوت کې د انګلیس مستقیم لاس شامل ؤ، چې اماني دولت ته يې سخته درنه اقتصادي او نظامي ضربه ورکړله. دا بغاوت ناکام شو او د انګلیس جاسوس عبدالکریم خان ببرته په لویه سرکوزي برتانوي هند ته فرار وکړ. اما انګلیس غلی پاته نه سو، د هرې ممکنه وسیلې څخه يې کار اخیستلو تر څو اماني دولت ته سقوط ورکړي او زمونږ افغانستان کې خپل یو مزدور د حکومت په سر کې نصب کړي. دوهم وار يې کله، چې افغان پاچا په لوی ویاړ د خپل مستقل افغانستان په استاذیتوب د اروپایي سفر څخه ۱۰ د سرطان ۱۳۰۷ل ، ببرته راستون سو، دا وار انګرېزي استعمار ګرو د خپلو لویو تجربو پر بنا داسې پلان جوړ کړ، چې لوموړی به په افغانستان کې یوه د خلا د حکومتي قدرت ایجاد کړو، چې صرف وحشت او دهشت وي، دا پراو باید لنډ وي، د دغه پراو پاچا یا امیر باید پشتون نه وي، ځکه که پشتون وي، نو بیا کېدلای سي، د پکتیا او جنوب پشتانه د هغوی د بل اوږد محاله نوکر، جنرال نادر خان سره د کابل د نیولو لپاره جنګ ته حاضر نسي. نو انګلیسانو په خپه تاجک یو مطلق نا لوستی جاهل غل حبیب الله سقاو زوی د پلازمیني کابل د شمال د پروان ولایت څخه دغه عبوري مرحلې ته وټاکه، تر څو زمینه اوږد محاله پراو ته د خپل زوړ جاسوس جنرال نادرخان ته د بادشاهي د مقام د غصب لپاره آماده کړو... . همدلته هر هوشیار افغان باید فکر وکړي، چې ولې د اماني مستقل دولت پر ضد دغه دواړه بغاوتونه د دیورند د انګلیسي سرحد (خوست او شینوارو) کې واقع سول؟! ولې د غازي امان الله پر ضد بغاوتونه د هېواد شمال بدخشان، تخار، بلخ، او فاریاب کې د روس-شوروي سره په سرحد کې پیل نه سول...؟!. دا د انګلیس خورا ماهر پلان منطقاً باید د جنرال نادر خان او ورونو سره يې په (نیس د فرانس) کې جوړاو پاس سوی وي. انګلیسانو لومړی عقرب د ۱۳۰۷ل دوهم ځل د دیورند په سرحدي سیمه شپینوارو کې یوه کوچني بغاوت ته تیل وړواچول. کرنیل لارنس همدغه سیمه کې لا د پخواء څخه د ملکه ثریا د مونټاژ سویو بربنډو عکسونو په تیتولو بوخت پاته سوی ؤ. اماني حکومت معمولا د مرکزي قول اردو څخه هلته قوه واستوله، تر څو پلازمینه کابل په نظامي او دفاعي لحاظ ضعیفه سوله، بیا استعمار پخپل خاص مهارت خلاف د انتظار د پاچا امان الله خان، د کابل د شمال څخه یوه د غلو او رزیلانو ډله د حبیب الله بچه سقو په مشري سمباله کړله. د حکومت خاینانو او د انګرېز سره حکومتي ارتباطي خاینانو او بې ضمیرو لکه احمد علیخان لودي دا ډله مسلح کړله. دغه سقاوي باند د انګرېز د سفارت سره په مخفي اړیکه کې د پلان سره سم په هم هغه دولتي دوی ته ورکړل سوي وسله او مهماتو، دوه واره قوس او جدي ۱۳۰۷ل په پلازمینه کابل وسله وال یرغل راوړ، چې په اماني دولت کې د انګلیس جواسیسو ورسره مرسته کوله او په دوهم وار ۲۷ د جدي يې کابل شاهي ارګ د اعلیحضرت عنایت الله خان څخه ونیو. البته غازي امان الله ۲۴ د جدي خپله استعفاء ورکړي او کندهار ته تللی وه او د بادشاهي مقام يې خپل ورور ته تسلیم کړای ؤ. غازي امان الله کندهار کې خلکو ته د هغه پر ضد د کورنیو خاینانو او د انګلیس ضدیت او پټې توطعې تشریح کړلې. د کندهار قهرمان او تاریخي ولس دئ پرېښود د سقاوي حکومت سره د مقابلې په هدف هرات ته ورځیني ولاړ سي. ببرته پاچا سوي امان الله خان د کندهاریانو د لس زرو مسلح لښکر د سروال په حیث مخ په کابل حرکت راوکړ، تر غزني پورې بریالی راغللو، اما په غزني کې د داخلي دوشمنانو او د شیطان انګریز د پټو او بنکاره فعالیتونو په لیدو يې داسې تشخیص وکړ، چې زما د بیا بادشاه کېدلو لپاره به د دوو افغانانو تر منځ لویه وینه او وژنه واقع کېږي، نو له خپله عزمه يې د کابل په لور انصراف وکړ او بیا ۶ د جوزا د ۱۳۰۸ل له هېواده ووت.

د غازي اعلیحضرت امیر امان الله خان (رح) سره خیانت او ضایع کېدل يې افغان ملت ته په لویه بدمرغي تمام سول. له هغه تاریخه تر نن پورې زمونږ مظلوم افغانستان ډېرې بدې ورځې ولیدلې او سیاسي ثبات تر ننه پر هېواد کې قایم نسو. بچه سقو حبیب الله د جنرال نادر خان له خوا نیول او قتل سو، نادر شاه د یوه امانیست محصل عبدالخالق خان له خواء په دننه د شاهي ارګ کې په لویه رسوایي قتل سو، زوی يې ظاهر شاه د سردار داوود له خواء خلع سو، نورمحمد تره کې د حفیظ الله امین له خواء قتل سو، ببرک کارمل د روس په ملتیا امین قتل کړ، نجیب الله د طالب تحریک له خوا ووژل سو... . زمونږ مظلوم افغانستان په دغه سل کلن پراو کې بیا دوه استعماري یرغلونه پخپلو قربانیو سره تحمل او دفع کړل. یو د روس-شوروي اشغال ۱۹۸۹-۱۹۷۹ز او دوهم ناتو اشغال ۲۰۲۱-۲۰۰۱ز، چې لومړي نیواک لس کاله او دوهم نیواک شل کاله دوام وکړ. افغانستان او ملت يې له دغو دوو استعماري یرغلونو څخه لویه مادي او معنوي صدمه ولیدله، چې افغانستان يې باید د دوو نسلونو په زیار ببرته مرمت کړي. دلته هر افغان مخالف او موافق زمونږ د هغه ملي زعیم غازي امیر امان الله په هغه حقانیت او عظمت اقرار کوي، چې د هغه له ضایع کېدلو تر نن پورې هېڅ افغان سیاسي مشر له حبیب الله سقاو زوی څخه نیولې تر ننې غایب د طالبي حکومت د مشر هیبت الله پورې، د امان الله خان تشه مونږ افغان ولس ته ډکه نسواى کړای. «روح دې خوشاله، ګور دې نوراني، جنت دې مکان اووسه غازي امان الله، ان شاء الله تعالى»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اما نن:
له ۴ کلونو راپدې خواء، چې زما پر تاريخي افغانستان د ناتو فزيکي نيواک ختم سو، د طالبانو تحريک دوهم ځل افغان حکومت ونيو. زه منحيث د يوه مستقل افغان، تاسو طالب تحريک ته داسی خطاب کوم، چې تاسو نن حکومت ياست او پخپله حکومت ولي دا دپر لوی مسوولیت ده، یعنی تاسو د کوم کلي ملکي نه کوئ، بلکه په يو تاريخي قهرمان ملت حکومت چلوی. بناً تاسو د حکومت مشرتابه به په دنيوي او اخروي حساب مواخذه کېږئ، او ملت او الله تعالی ته حساب ورکول آسان کار نه ده. زه لکه يو دردمند افغان دغه تېرو ۴ کلونو کې ستاسو هر اقتصادي او عمراني عمل تمجيد کوم. هو، تاسو افغانان ياست او يو سياسي حرکت ياست، تاسو به د قانون پر اساس د افغان دولت يوه برخه ياست خو نه ټول...! بناً اوس هم ۴ کاله تېر سوي، يوه رشتيني د ملت نماينده **((لويه جرګه))** راوغواړئ، دا د ملت مجلس بايد هېواد ته اساسي قانون جوړ کړي. د قانون پر بنا بايد زمونږ په افغانستان دولت او حکومت تاسيس سي. دغه نن د افغان شځو حقه حقوق ورته تامين کړئ، د اناثو متوسطه، ليسه او د پوهنتون زده کړې ورته پرانېزئ، شځه بايد د اسلامي حجاب په رعايت د نارينه تر څنګ کار وکړي، د مظلومو متقاعدينو حقوق بايد تاسو ورکړئ. د چا په لباس او شخصي قيافه بايد کوم بنديز او مداخله وجود ونه لري. د اوږدې ګيرې ذکر په قرآن مجيد کې نه سته ده، سنت فرض نسي کېدلای. د يوه افغان او مسلمان په حيث، زما په نظر تر کميس او پرتوګ او لونګی، په پطلون، کميس، کلکو کرمچو او شپو خولی کې شه چُست او فعال کار او روزګار کېدلای سي، هغه څه، چې غازي شاه امان الله (رح) سل کاله پخواء خپل ملت ته غوښتل. دغه دي زما لنډ عرايض، چې حاکم سوي افغان امارتي حکومتي چار واکو ته يې تقديم کوم.

پای

مطالب نشر شده از **محمد ایاز نوری** در پورتال افغان جرمن آنلاین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ